ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۵ سپتمبر ۲۰۱۵

# د ښځو سور پوځ

**(۱)**



په ۱۹۳۰ کال کې په چین کې توره دوره وه. د **هائی نان** په ټاپو کې د **نان باتیان** په نامه یو ظالم زمیندار ژوند کاوه. باتیان د هغه ځای د ارتجاعي پوځ د دفاعي لکښر قومندان و او د ارتجاعي لاسپوڅي حکومت سره د جوړجاړي له لارې، پر بزګرانو یې ظلم او زیاتي کاوه او دهقانان یې لوټل . دې ظلم او ستم د سیمې خلکو لپاره ژوند بی حده ستونزمن کړ.



د نان باتیان په کور کې یوې وینزې ژوند کاوه چې د نان باتیان د ستمونو زغم یې نور نه درلود. له ورځو یوه ورځ ورته موکې برابره شوه چې وتښتي. دا وینزه **جونګ هوا** نومیده چې یوازینۍ هیله او هدف یې له سره پوځ سره یوځای کیدل وو. هغې غوښتل چې له زورواکه زمیندار څخه خپل غچ واخلي.



جونګ هوا د زمیندار له کوره وتښتیده، په ډیرې وارخطایۍ سره یې منډې وهلې. ناڅاپه یې مخې ته یو شتمن سړی راښکاره شو چې پر آس سپور و. جونګ هوا هک پک شوه.



جونګ هوا خپله لاره بدله کړه او بیا یې منډه کړه. په دې وخت کې د نان باتیان مزدوران له څراغونو سره راورسیدل. هغوې جونګ هوا پسې ګرځیدل.



هغه سړی چې په آس سپور و، بی له ځنډه پوه شو چې څه تیر شوي دي. وینه یې له ډیره قهره په جوش راغلی وه. نوکر یې هم ډیر قهریدلی و او په قهر یې وویل:«دا د نان باتیان نوکران دي». سړي ورته وویل: «غلئ شه! د نان باتیان کسان کلي ته راغلی دي.»



څنګه چې هغوی کلي ته رارسیږي، د ارتجاعي پوځ کسان هغوی ته د ودریدلو امر ورکوي او بیا یې محاصره کوي، نژدې راځي او ورنه پوښته کوي:«تاسو له کوم ځایه راغلی یاست؟» هغه سړی چې په آس سپور دی، راکوزیږي او په

آرامی سره وایي:«نوم مي هون چانګ چنګ دی. زه یو چیني یم چي په بهر کي اوسیږم او راغلی یم چي د خپلو نیکه ګانو د زیارت لپاره خیرات وکړم.»



د ارتجاعي پوځ قومندان چي په خوله کي د سرو زرو غاښونه وو، د تلاشۍ په پلمه یې د هون چانګ چنګ بکس خلاص کړ. په بکس کي یې ډیر شمیر بلنلیکونه ولیدل.کله چي یې بلنلیکونه راپورته کړل لاندې یې د سپینو زرو ډیرۍ سکي ولیدلې او په لیدو یې له خوشاله لاس او پښې ورکي کړې.



د نان باتیان مزدورانو، **هون چانګ چنګ** او نوکر یې د نان باتیان زندان ته ویوړل او لاسونه یې ورته له شا وتړل. هغوې هلته هماغه انجلۍ په بند کي ولیده چي په لاره کي ورسره مخاخ شوي وو. د انجلۍ ټول بدن د قمچین په وهلو سره زخمي شوی و خو سر یې ټیټ شوی نه و. په جرئت یې ویل:«ووهه، هر څومره چي کولای شو ومی وهه! که موکې مي پیدا کړه بیا هم تبنتم.»